# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com | www.afgazad.com

سیاسی | Political



محمدسعید سعیدی


۱۹ فبروری ۲۰۱۵

## جهاد دپاکستان په شپلی کې

دطالبانو دحاکمیت په دورکې چې کله طالبانو دبودابتان ماتول نو محمود خان اڅکزی سره بی بی سی راډیو مصاحبه وه اڅکزی راډیو ته ویل چې تاسو په طالبانو باندی فشارمه راوړی چې بودا بتان دي نه ماتوی بلکې په اسلام اباد باندی فشار راوړی د اڅکزی په ډیرو مجالسو کې ویلی وچې که پاکستان وغواړی په یوه میاشت کې افغانستان کې جهاد دپای ټکی مومی اوامنیت رامنځ ته کیږی په دغو خبرو باندی دافغانستان ځینو روشن فکرو دماغ خلاص وو چې اصلاً جهاد دپاکستان په شپلۍ کې دی چې ددې خبری له پاره ښه ثبوت دمشرف خبری دی خو دغه خبری ولی رابرسیره شوی ؟

داځکه چې نوره منطقوی بدلونونه رامنځ ته کیدل اوپه پاکستان کې ګرین بوک پالیسی هم له پارلمان څخه پاس شوه نو باید دغه بدلونونه رامنځ ته شوی وای اودغه رامنځ ته کیدنه کې دامریکا سلاه وه اوپه ځانګړی توګه کله چې دپیښاوردارمی مکتب له ناخوالی پیښې سره مخ شو اودغه دپالیسی بدلیدنه ښه روښانه شول په منطقوی کچه په پالیسیو کې بدلونونه راغلل دافغانستان اوپاکستان یو بل ته په مبارزه کې ژمن شول اوهغه افغانان چې په پاکستان مدرسو کې درسونه ویل په هغوی باندی دمدرسو دروازی وتړل شوی او دمی اخرنی نیته یې ورته وټاکله چې خپل کالی ټول کړی که جهاد کوی اوکه یې نه کوی خپل وطن ته لاړشی. دطالب مشرانو سره هم یو څه وفاداری ځکه کوي چې ډیر وخت یې غلامی کړی اوپاکستان په خوله یې په افغانستان کې دجهاد په نوم خلک وژلی دی. ددوی بابوللیو ته یې ښه ګاډه کړی اوځنې اچولی دی نو پاکستان طالبانو ته وایی که تاسو سوله کوی نو دچین په منځګړتوب سوله وکړی اوجګړه کوی نونوره خپل هیواد ته لاړشی.

کله چې پاکستان همکاری دطالبانو سره نوی په هماغه ورځ جهاد دپای ټکی مومی نو طالبان به یا کومو مشکلاتو سره مخ کیږی ؟؟ ددوی ستونزی دادی چې دوی دهچازامن نه دی دوی بیا بې پلاره اوبې موره دی سروهلی بروهلی به ګرځوی په دوی باندی اسلاحه اودریږی پیسی وربانـدی تم کیږی کومکونه ورسره نه کیږی نو دوی یوازی دوه میاشتی یازیات پنځه میاشتو څخه زیات جګړه نشی کولی دوی انجام مرګ یا سوله دی خو اشرف غنی اوعبدالله که سیاست کوی اوپه ربنتونی ښه دخلکو رهبری ورسره وی خو ورسره نشته دی نو دوی دې ورسره سولی خبری پرېږدی هیڅ په دردنه

خوری یوازی له دې ښخه چې دمملکت بودیجه بې ځایه مصرف شي اویو وروسته پاتی فرهنګ له پاره دمبارزی لاره هواره کړی اوبس نو جګړه به کوی په جګړه کې بیادوی دملی اردو تاب نه لری همدغسی به له منځه ځي کله چې له دوی ښخه پاکستان لاس واخلی اوترینه اخلی نو بیا چې کوم ظلمونه یې کړی دغه خلک یې هم نه پریږدی نو نوره دطالب قضیه دپای ټکی مومی اوهغه طالبان چې په دغه موضوع باندی پوهه دی هغه دداعش سره بیعت کوی اوداعش لویه پروژه دی چې اټکل کیږی دافغانستان په شمال کې پیل کړی چې چین روسیه وربان‌دی تهدید کړی چې په دې اړه بل مضمون لیکلو اړتیا لیدل کیږی

په درنښت